سر یال نمبر: 168

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# جنوبي وزيرستان: د ۴۰ ترهګرو له وژل کېدو وروسته د ټي ټي پي مشرتابه ناسمو بيانونو ته اړ شو

د سراروغۍ سره نږدې په غرنۍ سيمه کې د ترهګرو له درنې مرګ ژوبلې وروسته، د ترهګرو رهبري له څو ورځو راهيسې د سخت خفګان سره مخ دی او اوس د ځينو ګمراه کوونکو انځورونو په ښودلو سره د خلکو د خواخوږۍ د ترلاسه کولو ناکامه هڅه کوي، په داسې حال کې چې اصلي حقايق په لاندې ډول دي:

- د پټو معلوماتو او د نږدې خلکو د بشپړې تصديق نه پس په دغه سيمه کې د ترهګرو په ضد کامياب عمليات ترسره شوي دي۔
- ځينې ترهګر له خپلو ميرمنو او ماشومانو سره په دې کمينونو کې پټ شوي وو ترڅو دوی د ځايي قبيلو په توګه ځانونه څرګند کړي۔
- د ترهګرو د وژلو نه وروستو ټي ټي پي عوامي نمائندګانو ته د ترهګر مشر داود د کورنۍ د مړينې پخلی کړی او د هغه په شمول د پاتې نورو ترهګرو د جسدونو د ښخولو غوښتنه یې کړې ده۔
- له عملياتو وروسته د سيمې خلکو له امنيتي ادارو مننه وکړه چې د دوی د ژوند او مال د خونديتوب او د ترهګرو په ځپلو باندې يې د فورسز شکريه ادا کړه ۔
- له بده مرغه ترهګر پخپله له خپلو مېرمنو او ماشومانو څخه د انساني ډال په توګه کار اخلي او د هغوی تر شا پټولو سره وژني۔

امنيتي ارګانونه د سوله خوښو خلکو د امنيت ضامن دي او د ولس په همکارۍ ترهګر له منځه وړي، د تحريک طالبان پاکستان د ناسمو څرګندونو پر ځای بايد خپله ناکامي ومني او تسليم شي، تر څو د نورو تلفاتو مخه ونيول شي۔